# په مورنۍ ژبه د زدکړې اړتیا

محمد اکبر ځاځی

دا څېړنیزه لیکنه د ملګرو ملتونو د کلتوري او تعلیمي برخې 2008 م کا ل ( یونیسکو) له لوري د مورنیو ژبو د کال په ویاړ لیکل شوې او « په افغانستان کښې په مورنۍ ژبه د زدکړې اړتیا ، ستونزې او د حل لار» په وهنیزه سیمینار کښې ولوستل شوه . دغه سیمینار ته په اروپا کښې د افغاني کلتوري ټولنو ګډې جرګې له خوا د جنوري میا شتې 26 په جرمني کولن ښار ته څېرمه هورت ښارګوټي کښې پوهان او مینوال رابلل شوي وو.

دا یو څرګند واقعیت دے چې په خپله مورنۍ ژبه زدکړه د ماشوم یو قانوني حق دے او په مورنۍ ژبه د تعلیم امکانات برابرول په ځانګړې ډول کابل ښار کښې د یو قانوني حکومت له بنیادي او اساسي دندو څخه شمېرل کیږي چې دا ډول قدم وچتول به په هېواد کښې د ملي یووالي او رښتني ټولنیز عدالت په لوري یو لوئے پرمختګ وګڼل شي.

په اروپائي هېوادونوکښې پوهانو د مورنۍ ژبې په اړوند یو لړ څېړنې کړې چې د بېلګې په ډول ئې نظرونه تاسوته وړاندې کوم.

د (ټورنټو) د یونیورستۍ پروفېسر جېم کومنینس Jim Comnins هغه تحقیقات او څېړنې چې په 2000 کال کښې ئې ترسره کړې وائي:

په دې وروستیو 35 کلنو کښې 150 جلاجلا ډېرو معتبرو څېړنو دا په ډاګه کړې چې په مورنۍ ژبه زدکړه له ماشوم سره د باور لوړ احساساتي لیاقت، متوازن او حوصله لرونکے شخصیت او د ماشوم د زدکړې ځواک په ذهني اخستنه کښې خورا لویه ونډه درلودلے شي.

اروپائي پوهان په دې ګروهمن دي چې کۀ ماشومان په ښوونځیوکښې زدکړه په مورنۍ ژبه ترسره کړي، نو نورې اروپائي ژبې به ئې هم د خپلې مورنۍ ژبې د ګرامري قواعدو په بنیاد په ډېرې چټکۍ سره د زدکولو جوګه کړي.

پروفېسرجېم کومنینس Jim Comnins وائي:

د امریکائي څېړونکو د تحقیقاتو په بنیاد دا هم روښانه شوې کۀ چېرې زدکړه د هغو وګړو په مورنۍ ژبې سره پېل شي چې زمونږ په اروپائي هېوادونوکښې اوسیږي، کامیابۍ به ئې ډېرې زیاتې وي.

په اروپائي هېوادونوکښې د یو بل څېړنیز او تحقیقاتي پروګرام چې نوم ئې دے:

Student Program for International Assessment یا په لنډه توګه PISA Studies هم ورته وئیلے شي، د خپلو څېړنو پایلې داسې بیانوي:

کهٔ څهٔ هم په اروپائي هېوادونوکښې د ماشومانو د زدکړې لپاره خورا پرمختللي وسائل شته، لېکن د زدکړو معیارکال په کال راټيټيږي اولامل ئې د بهرنیو هېوادونو ګڼ شمېر ماشومان دي چې زمونږ ماشومانو سره یو ځائے زدکړې کوي. نوموړې څېړندویه ډله وړاندیز کوي کهٔ چېرې د بهرنیو ماشومانو لپاره په ښوونځیوکښې په مورنیو ژبو سره د لیک او لوست امکانات برابر شي، هغه اندېښنه چې د اروپائي هېوادونه ئې لري، به منځه لاړه شي او بېرته به پخوانے برم تر لاسه کړي.

یوه اتریشي څېړونکې سونیا شېرف Sonja Schärf په **63** مخونوکښې په مورنۍ ژبه د ماشوم د زدکړې په حقله څېړنه ترسره کړې. دا وائي:

مونږ اروپایان کهٔ چېرې د نورو هېوادونو ماشومانو ته په خپله مورنۍ ژبه د تعلیم اسانتیاوې برابرې کړو، له بهر نه راغلي ماشومان به په ډېرې چټکۍ سره د پرمختګ پړاؤ ته ځانونه ورسوي او د استوګن هېواد اقتصاد ته به هم ګټه ورسوي. بلهٔ دا چې دغه ماشومان زمونږ د اروپائي ټولنې د هر هېواد یوه نهٔ بېلېدونکې برخه ګرځېدلې ده.

د ټورنټو د پوهنتون پروفېسر جېم کومنینس Jim Comnins وائي:

د پورتینو دلائلو په بنیادکهٔ په اروپائي هېوادونوکښې د وګړو په مورنۍ ژبې سره لومړني ښوونځي جوړ شي، پایلې به ئې بریالۍ وي.

د بېلګې په توګه د بلګش پروګرام چې په ازمائښتي ډول ئې په هالېنډ، فرانسوي او د کوربه هېواد په ژبې سره پیل کړے دے، پایلې ئې د دوي له نظره خورا د قناعت وړ دي. اوس په پام کښې ده، چې دغه لړۍ نوره هم وغځوي.

د OECD یو د PISA Studie وروستے رپورټ وائي: Student Programm for Intarnational Assesment یا PISA د دې لپاره چې په اروپائي هېوادونو کښې د ماشومانو د زدکړې چاپېریال یوازې او یوازې په پرمختللو درسي لوازمو او د لوړو زدکړو تکړه ښوونکو په درلودلو سره نهٔ خلاصه کیږي، ترڅو مونږ له بهر نه راغلیو ماشومانو ته په مورنۍ ژبه د لیک او لوست ماحول رامنځته نهٔ کړو. البته دا یو څرګند واقعیت دے چې له بهر نه راغلي ماشومان اوس زمونږ د معاشرې لویه برخه ګرځېدلې ده.



PISA Studies خپلې څېړنې ته داسې ادامه ورکوي ،کهٔ چېرې مونږ اروپایان له بهر نه راغلو ماشومانو ته دکلتور او ژبې په بنیاد ښوونځي جوړ کړو، دوي به د پرمختګ او علمي زدکړو په لور اوچت ګامونه پورته کړي او د لوړو زدکړو وروستي پړاوونو ته به ځانونه ورسوي، په ځان به باور ولري او د نیمګړتیا له احساس څخه به په پوره ډول وژغورل شي.

زمونږ په افغانستان کښې اوس مهال په ښوونځيوکښې د پښتنو ماشومانو ستونزه خورا حياتي ده چې جدي او نۀ په شا کېدونکې پاملرنې ته اړتيا لري . دا د هر افغان ماشوم حق دے چې په پلازمېنه کابل کښې په خپله مورنۍ ژبه زده کړې وکړي خو هغه په لکونو له مهاجرت نه راستانۀ شوي تنکي ماشومان دا کار په خپله نۀ شي کولے. دا دې پلرونو او کورنيو مشرانو دنده ده چې په ډېره بېړه او چټکۍ سره خپل غږ د پوهنې وزارت چاروا کو ته ورسوي.

د يونيسکو د مسؤلينو غونډې 2001 ميلادي کال د دسمبر18 مې نېټې په اعلاميه کښې په ډېرو واضحو ټکو سره داسې وائي:

هر انسان دا حق لري چې خپل ځان څۀ رنګه غواړي څرګند ئې کړي او د خپل ژوندانۀ چارې د خپلې خوښې په ژبه په تېره بيا په مورنۍ ژبه کښې رامنځته او خورې ئې کړي.

په مورنۍ ژبه زدکړه د ماشومانو طبعي حق دے او په مورنۍ ژبه د زدکړې شونتيا برابرول د دولت قانوني مکلفيت دے.

د افغانستان د اساسي قانون د 16 مادې په بنياد پښتو او دري دواړه د افغانستان رسمي ژبې دي او له بلې خوا د اساسي قانون په 43 مه ماده کښې په څرګندو ټکوکښې راغلي دي ، چې دولت مکلف دے په ټول افغانستان کښې د متوازن معارف د عامولو او تامين لپاره اغېزمن پروګرام طرح او تطبيق ئې کړي.

د بشر د حقوقو نړيوالې اعلاميې په 26 مه ماده کښې داسې راغلي چې مېندې او پلرونه حق لري د ماشومانو لپاره ئې د ښوونې او روزنې ډول غوره کړي.

هم دغه شان د ماشومانو د حقوقو تړون (سي ار سي ) په 30 مه ماده کښې وائي ، چې ماشوم بايد له خپلو حقوقو بې برخې نۀ شي ترڅو له خپل کلتور څخه خوند واخلي او خپل مذهب ومني او عملي ئې کړي او په خپلې مورنۍ ژبې سره د ژوندانۀ چارې سر ته ورسوي .

د ګوټينګن د پوهنتون پروفېسر ابېرهارد کروسه Eberhard Kruse په خپله څېړنه کښې وائي:

په هېواد کښې ميشتوو قومونو بچيانو ته کۀ په مورنۍ ژبه د زدکړې امکانات برابر شي د هغوي په شخصيت جوړولو کښې به خورا لويه ونډه ولري او د قوم د سوکالۍ او ودانۍ نخښه به هم شي .

نو په داسې حال کښې د پښتو ژبې ماشومانو ته چې دا مهال د کابل ښار ګڼ شمېر استوګن دي ، په خپله ژبه ماشومانو ته د زدکړو پروګرام پلې کول د ملي يووالي له ټينګښت او د محروميتونو له منځه وړلو سره به لويه مرسته وکړلے شي او نورو قومونو سره به د سيالۍ جوګه شي.

د منهايم د پوهنتون د سوسيالوژۍ د څانګې پروفېسر(هارترموت اېسر) وائي:

د خپلې مورنۍ ژبې له زده کړې څخه د يوۀ تنکي بچي محرومول د دې سبب ګرځي چې ماشوم د عقلي، ذهني، روحي، اخلاقي او د اروائي عقدو ښکار شي او د افراط او تفريط خوا ته وښويږي.

يو بل الماني څېړونکې (هانس مالف Hans Malv ) په 2004 ميلادي کال کښې په يوه څېړنه

کښې یوه خورا مهم ټکي ته ګوته نیسي چې یو ماشوم تر شپږ کلنۍ پورې په خپله مورنۍ ژبه 13 زره لغتونو پورې په یاده د زدکولو وړتیا لري چې په هر دوهم ساعت کښې د یو نوي لغت زدکولو ته چمتو دے خو ډېره د افسوس او بدمرغۍ خبره دا ده چې په دولت کښې یوه ډله لوړ پوړي چارواکي د پورته یاد شوو نړیوالو حقوقو او د اساسي قانون 43 مې مادې د پلې کېدو سره غبرګون او د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب او مۍ مادې سره چې ښوونه او روزنه باید په مورنۍ ژبې سره وي، په نۀ عملي کېدو ئې ډول ډول پلمې او ناندرۍ کوي .

خدائے خبر چې به دغه اوږد منزل ته چې ماشومان به ئې په خپله مورنۍ ژبه د زدکړې او لوړو تحصېلا تو پړاونو ته د هیلو کاروان سره مل ځانونه کله ور لنډ کړي. ستونځې خورا زیاتې دي. ولې د دغو ستونځو د پېژواني کولو دپاره په پوره اخلاص سره هلې ځلې پکار دي. وائي چې ولسواکي په وروری چلیږي او وروري په حساب. لوئے او مهربان خدائے (ج) په قرآن عظیم کښې د ژبې په حقله په الابراهیم سورت کښې داسې وائي. ((وماارسلنا مِن رَسُولٍ الابِلِسانِ قومِہ لِیُبینَ لهُم)) ژباړه : نۀ دے استولے مونږ هیڅ یو پېغمبر مګر د هم هغه قوم په ژبه، چې پېغام دوي ته روښانه کړي ښوونه او روزنه د لوئے او هسک خدائے ستر نعمت دے په مورنۍ معیاري ژبه زدکړه د انسان په ژوندانۀ اود ښوونې او روزنې په بهیر کښې رغنده جوت اغیز لري، انسان ته د خوښۍ احساس ورکوي. ژبه د خدائے هغه لوئے نعمت دے چې انسان د خپلواکۍ، ملي غرور، کلتوري او ذهني ځواکمنتیا په سمبالولو ځان بسیا ګڼي، نو هم دا علت دے چې لوئے خدائے د قوم په ژبه په قرآن عظیم کښې ډېر ټینګار کړے دے. څۀ رنګه چې په مورنیو ژبو زدکړه د پردیو کلتوري یرغلونو په مخ نیوي کښې ژور اغېز لري په داسې حال کښې چې زمونږ هېواد هم دا اوس د ګاونډیانو د فرهنګي یرغل سره لاس او ګرېوان دے، دا دې ښکېلاک ګرو سیا سي چلن وي چې وړومبے خپل فرهنګ په ډېرې ځېرکۍ سره یو هېواد ته استوي او بیا په مدار مدار د سیاسي او اقتصادي پلوه هغه هېواد ځان ته ایل کړي.

یو ماشوم تر شپږ کلنۍ پورې د 13000 لغاتونو په یادو د زدکولو ظرفیت لري، د پېداګوژۍ پوهانو له نظره د زدکړې لپاره تر ټولو غوره ژبه مورنۍ ژبه ګڼي. د ماشوم د زدکړې ځواک په وړومبیو کلونو کښې خورا ډېر وي، ذهني اخستنه ئې چټکه وي، یو زیا ت شمېر ماشومان د ژبے یو لړ اړین توکي له خپل مور او پلا ر، وروڼو، خوېندو او کلیوالو څخه زدکوي او خپلې مورنۍ ژبې سره نوي کلمې او ګرامري اصطلاحات په اسانۍ سره د ذهن زېرمو ته سپاري.

یو ماشوم د یوې دوېمې ژبې زدکړې په مها ل خپل نیمائي ذهني ځواک له لا سه ورکوي، د زدکړې په وخت د نیمګړتیا احساس کوي او د رواني غوټو، بې زړۀ توب چوپتیا سر بېره په ټولګي کښې ځان خجالتي او یوائې احساسوي. څۀ رنګه چې په مورنۍ ژبه زدکړه، د بشر د نړیوالو اعلامیو او د یونیسکو د مدیرانو د جرګو، قرآن عظیم، د هېواد اساسي قانون او د نړیوال قوانینو د هېواد په مورنۍ ژبه زدکړه باندې ټینګار کوي.